


**E-ISSN:** 2706-8927
**P-ISSN:** 2706-8919
www.allstudyjournal.com
IJAAS 2020; 2(4): 24-25
Received: 21-08-2020
Accepted: 23-09-2020

**پوهنیار سیلی فهیم**
ننګرهار پوهنتون
ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه
افغانستان_جلال اباد

# محاورې او اصطلاحات

**پوهنیار سیلی فهیم**

**Abstract**
Sayings and statements are the important part of a language and grammarians have defined it differently. Sayings and statements are not constant according to their structures but according to meaning they are considered the unbreakable structures. These structures make subject and predicate in sentences. In this article different definitions will be introduced and a compact definition will be presented. As well as it will declare the positions of structures in sentences. As proverbs have resemblance with conversation according to their meanings but they also have some points of identification between them. I have investigated various references and finally have indicated the points that helps identify these differences.

**Keywords:** basic words, expressional structures, proverbs

**لنډیز**
ګړنې او څرګندنې د ژبې ډېره برخه جوړوي او د ګرامر پوهانو له خوا ډول ډول تعریف شوي. ګړنې او څرګندنې د جوړښت له مخې کیداي شي ثابت نه وي. خو د مانا له مخې نه تجزیه کېدونکي ترکیبونه ګڼل کیږي. دا غونډونه په غونډلو کې د مبتدا او خبر برخې جوړوي .
پدې لیکنه کې د بېلا بېلو تعریفونه سره اشنا کېدل او په پای کې د یو بشپړ تعریف وړاندې کول موخه ده. بله موخه یې په غونډلو کې د دې غونډونو دریځ څرګندول دي.
دا چې متلونه له محاورو سره له مانیز پلوه نږدېوالی لري خو د بېلښت ټکي هم لري ماپسې د بېلابېلو ماخذو پاڼې اړولي دي او په نتیجه کې مې یې د بېلښت ټکي په ګوته کړي دي.
کلېدي کلمې: اصطلاحې ترکیبونه،متلونه

**کلېدي کلمې:** اصطلاحې ترکیبونه،متلونه

**سریزه**
اصطلاحي ترکیب چې زمونږ په ژبنیو اثارو کې ورته څو ډوله نومونې کاریږي د ژبپوهنیې په تیره بیا د نحو د علم یوه برخه ده چې زمونږ د ځوان نسل ډېري یې د متل سره د برید او د بیلتون کرښه چندان نه پیژني . کله ناکله یې د نومونې د بیلا بیلو ډولونو استعمال لوستونکي اندیښمن کوي چې ګواکې دا سره ببلې او چلا نومونې دي چې ببلا ببل مفاهیم لیږدوي.ددې څیړنیزې مقالې په لیکلو سره اړ شوم چې ببلابېلو اثارو کې دا موضوع په دقت سره وپلټم چې اوس دا لیکنه ترې جوړه شوه . باید یادونه وکړم چې ددې لیکنې اړوند مآخذونه ماځکه لږ را اخستي دي چې په نورو اثارو کې دومره وضاحت او روښتیا نه وه . هلته تر دې که څه زیات نه وو نو لږ خو حتمي وو.

**موخې**
١ – د ګړنو او څرکندونو په اړه د بیلا بیلو پوهانو د څرکندونو سره اشنا کېدل .
٢ – د ګړنو او متلونو توپیرونه په ګوته کول .
٣ – محصلان او د ژبې مینه وال پردې پوهول.

**د څیړنې میتود**
ددې له پاره چې یوه نا څیړل شوې موضوع و څیړل شي نو د پوهانو له خوا دڅیړونکیو دڅیړني له پاره ببلابېل میتودونه غوره شوي دي لکه: کتابتوني ، ساحوي ، او لابراتواري.ګړنو او څرکندونو بیاپه تېره ولسي ادبیاتو کې د متل په باب چې کوم اثار وړاندې شوي وي ددې څیړني له پاره ترې ګټه پورته شو ي ده . چې له کتابتوني میتود څخه پکې پوره ګټه پورته شوې ده.

**محاورې او اصطلاحات**

**( اصطلاحي ترکیبونه )**
محاورې او اصطلاحات چې په ببلابېلو څیړنو کې څېړنکېو او ژبپوهانو ببلابېل نومونه ورکړي دي . فرازیالوژیکي واحدونه ، محاورې او اصطلاحات ،ګړنې او څرکندونې ، ایډیمونه او داسې نور .
فرازیالوژیکي واحدونه د ژبپوهنې د یوې جلا څانګې ِغوښتنه کوي خو اوس د نحوې او وییپوهنې په برخو کې تر څیړنې لاندې نیول کیږي .
محاورې او اصطلاحات : ځینو لیکوالو محاوره ببله ګڼلې او اصطلاح ببله . چې ددې دواړو ترمنځ د توپیر یو نرۍ کرښه هم شته خو دلته ترې تېریږو.

**Corresponding Author:**
**پوهنیار سیلی فهیم**
ننګرهار پوهنتون
ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه
افغانستان_جلال اباد

اصطلاحي واحدونه : هغه تعبيرونه دي چې هر ملت او ولس يې د خپل ژوندانه په چاپيرېال کې د خپلو عنعنو ، اخلاقو ، روحياتو په چوکاټ کې په خپله ژبه کې رامنځ ته کوي . دغه واحدونه نه يوازې په خبرو اترو کې کارول کيږي بللکې په لېکلو اثارونو کې هم ستره برخه لري.
محاورې او اصطلاحات که له يوې خوا نه د ژبې د لغوي پانګې بشپړونکې برخه ده نو له بله پلوه يو ادبي خوند او رنګ هم لري.
پوهاند مجاور احمد زيار په پښتو پښويه نومي اثرکې ليکي:ګړنې او څرګندنې د چا خبره د ژبې شاعرانه توکي دي ځکه دشعر غوندې سيده څرګندونه نه کوي بلکې جوله يو څه او معنا يې بل څه.نو که په شعري يا بل هر ادبي کالب کې ځای ورکړ شي يو هنري انځور هومره راکښون او ښکلا رامنځ ته کوي.(۲: ۳۲۴ )
د پښتو اصطلاحات او محاورې نومي اثر ليکوال ليکي : اصطلاحات ومحاورات تعابيريست که هر ملت موافق به محيط حيات وعنعنه واخلاق و روحيات خود در زبان خويش مي افريند و برای اظهار مقاصد خود استعاره ميکند ، که بزکر محاوره فکر شنوند فوراً بسوی مقصد مستقل ميشود و بدون اينکه ګوينده مقصد خود را بعبارات صريح بګويد اصطلاحات و محاوره خصوصی زبان ماضی الضمير را ترجماني ميکند .(۶:الف ـ ب)
اصطلاحات او محاورې:هغه تعبيرونه دي چي يو ولس يې دخپل چاپيرېال ، دودونو ، کړو وړو او سايیرو (رواني ) غوښتنو له مخې په خپله ژبه کې ځايوي او رامنځته کوي او د خپلو موخو او اهدافو له پاره يې استعاره کوي .
د اصطلاح په کارونې او راوړونې سره د اورېدونکې سوچ او اند (فکر) له واره د کارونکي د موخې پر لور ورځي او بې له دې چې ويونکي يا ګړيدونکي خپله موخه ډانګ پيپلې ووايي، ګړنه او اصطلاح يې د زړه خبره ډاګيزه کوي .(۶:۵)
يوه ګړنه (اصطلاح) دکلمو داسې ترکيب دی چې په نحوې چاپيرېال کې بېلابېله لفظي خپلواکي ساتلی شي.البته هر ډول ګرامري بدلون پکې راتلای شي خو ګډه مانا چې د دغه غونډله اجزاوو لاسته راځي ، نه تجزيه کېدونکې مانا به وي.( ۷: ۳۳)
نو په لنډ ډول ويلی شو چې دا هغه ژبني جوړښتونه يا د داسې وييونو غونډ وي چې په پښوييز محيط کې هر راز راز اوښتنو او راوښتنو سره مخامخ کېدای شي. له دې اوښتنو راوښتنو سره کومه ګډه ګړنيزه مانا چې له دغې توکونو څخه په لاس راځې نه شنل کېدونکې وي. دا غونډونه يا ترکيبونه د مانيز پلوه د شنلو وړ نه دي او تل د دويمې او درېيمې معنا له پاره کارول کيږي.
لکه: د لستوڼي مار نه د لستوڼي له پاره کارول کيږې او نه د مار له پاره چې دغه ترکيب د يو مفهوم له پاره راغلي دي.
لکه څنګه چې مونږ د مورفيم په برخه کې وايو چې هغه مانيز واحد دی چې د تجزيه کولو نه يې، بې معنا اوازونه لاسته راځي نو محاوره او اصطلاح هم لکه د مورفيم غوندې که تجزيه شي هغه معنا له لاسه ورکوي د کومې لپاره چې په کار وړل کيږي.

د محاورې او اصطلاحاتو ځانګړنې:
۱ ـ د مانيز پلوه د شنلو وړ نه دي.
۲ – په ژبه کې سملاسي نه جوړيږي.
۳ – بلې ژبې ته يې په ټکي په ټکي ژباړل ناشوني دي .
۴ – مخينه يې په ژبه کې څرکندول ستونزمن دي.
۵ – تل د مجازي معنا له پاره کارول کيږي .
د محاورې او اصطلاحاتو ډولونه:
محاورې او اصطلاحات په دوه لويو برخو ويشل کيږي.
۱ – اسمي يا نوميز : هغه محاورې او اصطلاګانې دي چې د فعل نښه پکې نه وي او اصلي مرکز يې نوم دی چې بېلګې يې په لاندې ډول دي.
دبوډۍ ټال ، د اسمان کټ ، د لستوڼي مار ، د غاړې غور ، د عقل پلی ، نوک و ورۍ ، د سترګو تور ، شين زمری ، د کيډړ واده ........... او داسې نور
پورته ترکيبونو ته که ځير شو نو دا ترې څرکنديږي چې دا هر يو د يو مفهوم له پاره کارول کيږي. نه دا چې د ترکيب هره برخه خپله معنا لري. (۱: ۷۶)
۲ – فعلي : هغه ترکيبونه دي چې فعل پکې راغلي وي هغه که کومکي فعل وي او که اصلي ، چې دې ته فعلي محاورې او اصطلاحات وايې . بېلګې يې په لاندې ډول دي . ( د داکتري زرغوني پښتو نحوه)
لاس ته راوړل ، اور ته اچول ،سر تندی وهل ، سر ټکول ، پر ځمکه غورځول ، شړومبو مچ کيدل ، لاس تر زني کيناستل او داسې نور.....
له متل سره د محاورو او اصطلاحاتو بيلوالی :
مخکې له دې چې له محاورو او اصطلاګانو سره د متل د توپير ټکی په ګوته کړم د متل يو لنډ تعريف راوړم.
متلونه د يوې جامعې د طرز تفکر د اظهار او څرکندولو موجز او لنډ ښکارندويان دي . جامعه له دې لارې خپل افکار ، نظريات ، فيصلې ، پريکړې ، قضاوتونه ، کرکې ، نفرتونه ، خوښۍ ، پيشبنۍ ، او نور فکرونه اظهاروي .(۴ – ۱۹)
د مانيزي پلوه متلونه او محاورې سره نږدې دي،خو د بېلښت ټکې هم لري چې په لاندي ډول بيانيږي.(۳:۷۶)
۱ – محاورې او اصطلاحات ترکيبونه دي او متلونه جمله او جملې دي .
۲- محاورې او اصطلاحات په منثوره بڼه راځي خو متلونه منظوم شته دي.
۳ – متل لپاره تر شاه يو کيسه حتمي ده خو کېداي شي محاوره يې ونه لري.
۴ – د متل مفهوم ډېر پراخه او د ژوند په بېلابېلو برخوکې په بېلګو کې راوړلای شو،خو محاوره بيا دومره نه ده .
۵ – متل ډېرې تاريخي رنګا رنګۍ لري خو د محاورو نه دا تمه نه کيږي.کېداي شي داسې د ګوتو په شمېر محاورې هم پيدا شي چې د جملو بڼه لري هو مفهوم يې ډېر لږ او لنډ وي چې دا هم په محاوره کې يو استثنا ده .

## پايله

محاورې په يوې ژبې کې د ژبپوهانو له خوا په بېلابېلو نومونو راغلي دي په دې ډول فرازيالوژيکي واحدونه،محاورې،اصطلاحات، ګړنې او څرګندنې او ايډيمونه ، دمحاورې او اصطلاح ترمنځ د توپير يوه نرۍ کرښه شته،خو بيا هم زياتره په يوه او واحد مفهوم کاريږي .
ديوې ژبې لغوي برخه جوړوي ، بيا هم زمونږ د ننۍ هنري ادبيمتونو خوندوره برخه هم ده.
د محاورې يا اصطلاح يو جامع تعريف او پېژند وړاندې شوېدي او څرګندې ځانګړنې يې په ډاګه شويدي. ددې تر څنګ د متل او اصطلاحي ترکيب يا محاورې تر منځ هم ټاکلي توپيرونه ښودل شويدي.

## sوړانديزونه

۱ – ګړنې او څرګندنې تر اوسه په غونډله پوهه ځاي لري خو پدې ارزي چې د ژبپوهنې يوه جلا ځانګه شي. که څېړونکي يې په اړه وروستي څېړنې وړاندې کړي ، ګټورې به وي .
۲ – متلونه او ګړنې زياتره په کليو او باندو کې د خلکو په سينو کې خواره واره پراته دي. که چېرته راټول او وڅېړل شي د څېړونکو له پاره به د څېړنې مواد پيدا شي.

## اخځونه

۱ – ريښتين،زيور،زرغونه .( ۱۳۸۸ ل ه) .د ساپي پښتو څېړنو مرکز.
۲ – زيار ، مجاور احمد .( ۱۳۸۴ل ). پښتو پښويه ، دانش خپروندیه ټولنه.
۳ – زيار،مجاور احمد.( ۱۳۸۲ ل ). د خوشال ادبي پښتو ، دانش خپرنديه ټولنه.
۴ ـ سليمي ، نسيم . (۱۳۹۰ ). علامه رشاد خپرندويه ټولنه.
۵- صميم، محمد اصف . (۱۳۷۸) . لرغوني شاعری ګړني، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه.
۶ – نوري ،محمد ګل . (۱۳۲۷ ). پښتو اصطلاحات او محاوري.
۷ – کډوال ، شاه محمود . (۱۳۹۱) . ګړني، څرګندني او نوموني، مومند خپرندويه ټولنه.